مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۴/۰۸/۲۸

# ګــډ وډ

موږ لوستلی جـهالت او تعليم ګــډ وډ
اوس وطن کي ګرځي دوست او غليم ګډ وډ

لـېونـو انـقـلابـونـو معـاشـري تـه
لېوني او هـوښياران کړل تقديم ګډ وډ

بې سنجـشه او حساسو میندو غبرګ غبرګ
زېږولي ســر تـمـبـه او حـليم ګــډوډ

سور کافر دی سپین مسلم تور منافق دی
قوانين دي دې وطن کي مقيم ګــډ وډ

لــه هېواده جــوړه شــوي سلاته ده
نیول کيږي پکي ځـکـه تصميم ګډ وډ

ځای معلوم نه دی تول تبنتي دی منزل يې
امريکا او فرانســه او بلجيم ګــډ وډ

لــه باوره يې ياران تول ګيله من دي
ليکل کيږي تري شعرونه يو نيم ګډ وډ


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزی بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ